لوړو زده کړو وزارت

بُست پوهنتون

علمي معاونیت

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

# د قضاء او څارنوالۍ د څانګې کتلاک

## لړلیک


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| د بست پوهنتون لنډه پيژندنه | ۲ |
| د حقوق او سیاسی علومو پوهنځی لنډه تاریخچه | ۲ |
| د قضاء او څارنوالۍ دځانګي لنډه تاریخچه : | ۲ |
| د قضاء او څارنوالۍ د څانګي لیدلید او ماموریت: | ۳ |
| موخې: (Goals) : | ۳ |
| د قضاء او څارنوالۍ د څانګي د زیربنايي او رو بنایی امکاناتو په اړه لنډ معلومات: | ۴ |
| د قضاء او څارنوالۍ د څانګي د علمي پروګرامونو پیژندنه: | ۴ |
| د قضاء او څارنوالۍ د څانګي د تحصیلي نظام، استادانو او کارکونکو په اړه معلومات: | ۴ |
| د فارغ التحصیل محصلانو روښانه تعریف | ۴ |
| د قضاء او څارنوالۍ د څانګي کریکولم: | ۵ |

### د بُست پوهنتون پېژندنه:

بُست پوهنتون د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لوړو زده کړو وزارت د (1391,1,28) نېټې د (487) ګڼه حکم او د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسساتو ریاست د (44) ثبت ګڼې پر بنسټ په( 4 /2/ 1391 ) نېټه د هلمند ولایت په لښکرګاه ښارکي د لوړو زده کړو موسسې په نوم تأسیس او په خپل اکاډمیک فعالیت ئې پیل وکړ چې د ښو او لوړو معیارونو په رعایت او پوره کولو سره په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې پوهنتون ته ارتقاء وکړ.

### د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي پېژندنه:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په ۱۳۹۱ لمریز کال کې د بُست پوهنتون له تأسیس سره یو ځای د هلمند په ولایت کې رامنځته او په علمی فعالیت یې پیل کړی دی؛ اود هیواد او ولایت په کچه هغه ځوانانو ته چې لوړي زده کړې یې یواځنی هیلې او ارمان ؤ خپله غیږه پرانیستله تر څو د ځوان نسل ته د پر مختللو میتودونو ، تجربه لرونکو استادانو ، او معاصرې تکنالوجی په مرسته د معیاري ښوونې او روزنې اسانتیاوی برابری کړي. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د تأسیس له وخته تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده او په ښه ډول یې ټول علمي چاري مخته ځي، ځینو استادانو یې د پوهنځي او پوهنتون څخه د ښه کړنو او فعالیتونو له وجې ستاینلیکونه تر لاسه کړي، د ایراسموس پلس نړیوال تحصیلي پروګرام له لارې یې یو تن محصل د اسپانیا هیواد د ډي سانتیاګو پوهنتون ته د لنډ مهاله زده کړو لپاره استولي.

یاده پوهنځی د لیسانس په کچه محصلین روزي چې پدې پوهنځی کې د لیسانس دوره څلور کاله ده، چې څلور سمسټرونه په مشترک ډول او نور څلور سمسټرونه پر څانګو باندی ویشل کیږي او په جلا ډول زده کړي کوي. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی په خپل تشکیل کې څلور څانګې (قضاء او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي، خصوصي حقوق او نړیوالي اړیکي) لري، چې له هغې جملې څخه یې د اوس لپاره د اداره او ډیپلوماسی او قضاء او څارنوالی څانګې فعاله دي.

### د قضاء او څارنوالی د څانګې لنډه تاریخچه

د قضاءاوڅارنوالی څانګه په ۱۳۹۱ لمریز کال کې دحقوقو او سیاسي علومو پوهنځی له تأسیس سره یو ځای رامنځته او په فعالیت یې پیل کړی دی؛ قضاء او څارنوالی د څانګې په برخه کې محصلین روزي ، پدې څانګه کې اکثره قضایي او جزایي مضامین تدریس کیږي ، که چیري څوک غواړي د حقوقو برخه کې تخصص تر لاسه کړي، نو د حقوقو د لیسانس تر کچې زده کړي د هغه لپاره لومړنی او بنسټیز ګام دی . د حقوقو زده کړه ، نورو برخو لپاره هم اساسي نقش لري د بیلګې په ډول اقتصاد،تجارت ،بشري منابع ، د دولت سیمه ییز ارګانونه او عمومي اداراه ټول له حقوقو څخه سرچینه خلې .

حقوق د تولنې د پرمختګ لپاره داسي چوکاټ جوړوي چې هغه د ژوند د ټولو اړخونو سره اړه لري، د حقوقو زده کړه ذهن ته وده ورکوي او تجربوي مهارتونه لمسوي،حقوقي پوهه داسي پیاوړې دنده ده، چې خپل حقوق او د نورو حقوق راپیژنې ۰

د قضاءاو څارنوالی څانګې ایجاد او د محصل د پوهي ، مهارتونو او سلوکي تغیراتو په برخه کې باید په څه ډول وروزل سي؟ تر څو د فراغت څخه وروسته د کار په ساحه کې د ټولنې د ضرورت او اړتیا مطابق د خدمت لپاره اماده وي، په دې هکله مو د لاندې اداراتو څخه معلومات تر لاسه کړي دي.

1. د هلمند ولایت د استیناف څارنوالی محترم ریاست
2. د استیناف محکمې محترم ریاست
3. د عدلیې محترم ریاست

4. د بشرحقوقو خپلواک کمیسیون

، که چیري څوک غواړي د حقوقو او سـیاسـي علومو د پوهځی (**قضـاء او څارنوالی د څانګې**) په برخه کې تخصـص تر لاسـه کړي؛ نو د حقوقو او سیاسي علومو د پوهځی د لیسانس تر کچې زده کړې د هغه لپاره لومړنی او بنسـټیز ګام دی ٠ د حقوقو او سـیاسي علومو زده کړه ، دنورو برخو لپاره هم اسـاسي نقش لري د بیلګې په ډول کورني حقوق ، قضـایي برخه ،جزایي برخه ، مدافع وکالت.

د **قضاء او څارنوالی د څانګې** تر دې مهاله په اته دورو کې ( ۱۵۲ ) تنه د لیسانس په کچه فارغان ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړې او اوس مهال ښځینه او نارینه محصلین د قضاء او څارنوالی په څانګه کې په زده کړو بوخت دي.

**لومړی: - ویژن (Vision)**

قضاء او څارنوالی څانګه هیله او آرزو لري، چې په اسلامي ،ملي او اکاډومیکو اصولو او ارزښتونو سره د ټولنې په عدلي،قضایي او حقوقي اورګانونو لپاره پیاوړي کادرونه تربیه او د لا ارتقاء لپاره یې ټولنې ته وړاندې کړي. تر څو په عدلي،قضایي او حقوقي برخو کې د پرمختګ او انکشاف لپاره رغنده برخه واخلي.

**دوهم:- میشن (Mission)**

قضاء او څارنوالی څانګه هڅه کوي، هغه ځوانان چې غواړي په قضایي او حقوقي برخو کې لوړې زده کړې وکړي ، په لوړ کیفیت ،اسانه او معیاري زده کړو زمینه ورته مساعده کړي ، تر څو هغه ځوانان له نوموړو اسانتیاو څخه په ګټې اخیستنې خپل اهدافو ته ورسیږي، تر څو د خپل هیواد او ولس لپاره د خدمت جوګه وګرځي.

## موخې: (Goals) :

د قضاء او څارنوالی څانګې فارغان به لاندې وړتیاوې په لاس راوړي:

1. د کورني، سیمه ییزو او نړیوالو حقوقي مسائیلو وېشل او تحلیل.
2. اداري فساد په وړاندې مبارزه ٠
3. د څانګې دکیفیت د لوړاوي معیارونه پلې کول٠
4. د څېړنې او نوښت روحیه پیاوړې کول٠
5. د په قضایي او عدلي ارګانونو کې د منازعاتو حل و فصل کول.
6. په دولتي او غیر دولتي مؤسسو، ادارو او ارګانونو کې د کار کولو مهارت.
7. د انتقادي تفکر څخه خبرتیا او د تدریسي او تحقیق د چارو پرمخ بېولو مهارت.
8. د ماسټرۍ او دوکتورا په برخو کې د لوړو زده کړو کول.
9. د نورو لپاره الګو پاته کېدل، په مسلک کې امانتداري، نورو ته د پوهې لېږد او د ټولنې د حقوقي پوهې او پرمختګ لوړولو وړتیا.

## د قضاءاو څارنوالۍ څانګې د زيربنايي او رو بنايي امکاناتو په اړه لنډ معلومات:

څانګه د ټولو امکاناتو په درلودلو سره مجهز تدريسي ټولګی ، فزيکي او بريښنايي کتابتون او منظم ډول سره د بريښنا شتون دی او همدارنګه د پوهنځی په داخل کي فعاله د ( بريښنايي زده کړو ، ازموينو، څېړنو، نظم دسپلين، نصاب ، تضمين کيفيت او لوړاوي ، ستراتيژيک پلان ) کمېټې شتون لري.

### د قضاءاو څارنوالۍ څانګې د علمي پروګرامونو پېژندنه:

د قضاءاوڅارنوالۍ په څانګه کي تدريسي بهیر د عملي او نظري فعاليتونو تر څنګ برحاله او فارغه کيدونکو محصلينو ته د ظرفيت لوړونې په مختليفو برخو کي لنډ مهاله مسلکي کورسونه، ورکشاپونه ، علمي سيمينارونه او کنفرانسونه په لاره اچول کيږي، قضاءاو څارنوالۍ څانګې کي وخت پر وخت علمي، عملي او د ظرفيت لوړونې پروګرامونه (تمثلې محکمې ، د جرمي صحنې د اثارو حفظول، دفاعي ، دفعه دفاعيی او اعتراضونه په عملی بڼه ليکل او داسي نور۰۰۰

## د قضاءاو څارنوالۍ ډيپارټمنټ د تحصيلي نظام، استادانو او کارکونکو په اړه معلومات:

په ټوليز ډول د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی او په څانګړي ډول د قضاءاو څارنوالۍ څانګې نصاب د هيواد په کچه د نورو پرمختللو نصابونو سره پرتله او موازنه شوی دی او ټول هغه مضامين پکښې ځای پر ځای شوي دي چي اوسنې عصر کي د حقوق او سياسي علومو د ليسانس په کچه ورته اړتيا ليدل کيږي . ددې ډيپارټمنت ټول تدريسي بهیر او پروګرام د کريديت سيستم د لايحې مطابق ( اساسي ، تخصصي، اختياري او پوهنتون شموله مضامين) چي د کريکولم په تطبيق سره په کال کي دوه سمستره دي چي سمسترېې بغير له امتحان څخه ۱۶ اوونی چي يو تدريسي ساعت يي ۵۰ دقيقې دی، تدريسيږي چي ددې دورې مکمل کرېډيټونو شمېر لږ تر لږه ۱۳۶دی چي هر سمستر د ۲۱ کرېډيټونو څخه نه زيات او د ۱۷کرېډيټونو څخه نه کميږي او همدارنګه په دې څانګه کي د ډيپارتمنت امر ، تدريسي مدير او استادان چي د ليسانس ، ماستر، او دوکتور په کچه دي د يادې څانګې اداري او تدريسيچارې مخته وړي.

### د قضاءاو څارنوالۍ څانګې د فارغ التحصيل روښانه تعريف:

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د قضاءاو څارنوالۍ څانګه د مسلکي او متخصصو کادرونو د روزنې په موخه ايجاد سوې، په دې اساس قضااوڅارنوالۍ څانګه هغه شخص د خپل ليسانس دورې فارغ التحصيل بولي چي په ياد، ډيپارټمنټ کي لږ تر لږه ( ۱۳۶ )کريډيټونه يې په يوه څلور کلنه تحصـــيلي دوره (۸ ســـمســـترونو) کي پوره کړي او د پوهې، وړتياوو او چلند په برخو کي د لاندي شرايطو درلودونکی وي:

۱. د پوهې په برخه کي: د قضاءاوڅارنوالۍ څانګه فارغ التحصيل وکولای شي چي د ليسانس په کچه پر حقوقي، سياسي، قضايي، مدني، اداري ،فاميلی او ... موضوعاتو باندي برلاسی، په عملي او علمي مهارتونو تسلط ولري تر څو وکولای شي د متخصص کادر په توګه په ټولنه کي خپل شتون په ډاګه کړي.

۲ـ د وړتياوو په برخه کي: د قضاءاو څارنوالۍ څانګې فارغ التحصيل داسي يو شخص دی چي د اړتيا تر کچې له سياسي، حقوقي، قضايي، اداري، جزايي او مدني موضوعاتو سره آشنايي لري او پدې برخه کي د خپلې ټولنې ستونزي د هوارۍ توان لري.

۳- د چلند په برخه کې: د قضاءاو څارنوالی څانګې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چې د خپلو تخصصي مضمونونو (حقوقي او سـیاسـي) او مسـلکي مضـمونونو له منځپانګې څخه یې د هیواد د نافذه قوانینو ته درناوی، اکاډمیک اخلاق، هیوادپالنه، لوړ اسلامي، انساني، افغاني او اخلاقي ارزښتونه یې زده کړي دي او ټولو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تعصب او توپیري چلند څخه خلاص دي.

## د قضاءاو څارنوالی څانګې د تحصیلی نصاب کریکولم :

### د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

### قضاء او څارنوالی څانګه:

### لومړی سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود | کریډیټونه | ساعتونه | | | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | مبادي حقوق (۱) | LA110 | 3 | 3 | | 3 | اساسي |
| 2 | نړۍ سیاسي تاریخ (۱) | LA111 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 3 | د سیاست د علم بنسټونه(۱) | LA112 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 4 | نړیوال سازمانونه (۱) | LA113 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 5 | د اسلام د حقوقو بنسټونه (۱) | LA114 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 6 | د اسلام اعتقادي نظام | SL.IC. 0171 | 2 | 2 | | 2 | تول شموله |
| 7 | تلاوت او تجوید | SL.IC. 0172 | 1 | | 2 | 2 | تول شموله |
| 8 | بهرنی ژبه (۱) | LA116 | 1 | 1 | | 1 | پوهنتون شمول |
| 9 | د اقتصاد د علم بنسټونه(۱) | LA117 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 10 | د رسنیو حقوق | LA118 | 2 | 2 | | 2 | اختیاري |
| 11 | کمپیوتر | LA119 | | | | | اختیاري |
| مجموعه | | | 19 | 18 | | 20 | |
| یادونه | په لومړي سمستر کي د اسلامي ثقافت مضمون چې مخکي یو کریډیټ تدریس کي دی، د نوي نصاب په تطبیق سره درې کریډیته تدریسیږي، چې دوه کریډیته د اسلام اعتقادي نظام مضمون او یو کریډټ تلاوت او تجوید مضمون تدریسیږي، چې مخکي لومړی سمستر ټوله (۱۷) کریډیته وه او اوس(۱۹) کریډیته تدریسیږي. | | | | | | |

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی**

**قضاء او څارنوالی څانګه:**

**دوهم سمستر**

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود | کریډیټ | ساعتونه | | | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | مبادي حقوق (۲) | LA 220 | 3 | 3 | | 3 | اساسي |
| 2 | نړۍ سیاسي تاریخ (۲) | LA 221 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 3 | د سیاست د علم بنسټونه (۲) | LA 222 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 4 | نړیوال سازمانونه (۲) | LA 223 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 5 | د اسلام د حقوقو بنسټونه (۲) | LA 224 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 6 | د اسلام عبادتي نظام | SL.IC. 0273 | 2 | 2 | | 2 | ټول شمول |
| 7 | سیرت | SL.IC. 0274 | 2 | 2 | | 2 | ټول شمول |
| 8 | خارجي ژبه (۲) | LA 226 | 1 | 1 | | 1 | پوهنتون شمول |
| 9 | د افغانستان معاصر تاریخ | LA 227 | 2 | 2 | | 2 | پوهنتون شمول |
| 10 | احصاییه | LA 228 | 2 | 2 | | 2 | اختیاري |
| 11 | چاپیریال ساتنې حقوق | LA 229 | | | | | اختیاري |
| | مجموعه | | 20 | 20 | | 20 | |
| یادونه | په دوهم سمستر کې د اسلامي ثقافت مضمون چې مخکې یو کریډیټ تدریس کې دی، د نوي نصاب په تطبیق سره څلور کریډیټه تدریسیږي چې دوه کریډټه د اسلام عبادتي نظام مضمون او دوه کریډټه سیرت مضمون تدریسیږي، چې وړاندې ټول ۱۷ کریډیټه وه او اوس ۲۰ کریډیټه تدریسیږي. | | | | | | |

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## قضاء او څارنوالۍ څانګه:

## دریم سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود | کریډیټ | ساعتونه نظري | ساعتونه عملي | ساعتونه مجموعه | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عمومي حقوق جزا (1) | LA 323 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 2 | معاصرحقوقي سیستمونه (1) | LA 331 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 3 | وجایبو حقوق ( 1 ) | LA 332 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 4 | مالي حقوق (1) | LA 333 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 5 | عمومي اساسي حقوق(1) | LA 334 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 6 | کار حقوق (1) | LA 335 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 7 | د اسلام اخلاقي نظام | SL.IC.0375 | 2 | 2 | | 2 | ټول شموله |
| 8 | د اسلام ټولنیز نظام | SL.IC.0376 | 2 | 2 | | 2 | ټول شموله |
| 9 | خارجي ژبه (3) | LA 337 | 1 | 1 | | 1 | پوهنتون شمول |
| 10 | سیاسي افکارو تاریخ (1) | LA 338 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 11 | تعاملي حقوق | LA 440 | 2 | 2 | | 2 | اختیاري |
| 12 | د معنوي ملکیتونو حقوق | LA 439 | | | | | اختیاري |
| | مجموعه | | 21 | 21 | | 21 | |
| یادونه | په دریم سمستر کي مخکي د اسلامي ثقافت مضمون په شمول ټول ۲۰ کریډټ تدریسیدل او د اسلامي ثقافت مضمون چي مخکي یو کریډیټ تدریس کیدی د نوي نصاب په تطبیق سره څلور کریډیټ تدریسیږي چي مخکي عمومي حقوق جزا او د وجایبو حقوق مضامین درې درې کریډیټه تدریس کیدل چي د یو یو کریډیټ په کمیدو سره یې په بدل کیدوه کریدیټ د اسلام اخلاقي نظام او دوه کریډیټه د اسلام ټولنیز نظام د اسلامي ثقافت مضمونونواضافه کړل سو، چي اوس ټول ۲۱ کریډیټه تدریسیږي. | | | | | | |

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## قضاء او څارنوالۍ څانګه:

## څلورم سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کوډ | کریډیټ | ساعتونه | | | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | عمومي حقوق جزا (2) | LA 441 | 3 | 3 | | 3 | اساسي |
| 2 | معاصرحقوقي سیستمونه (2) | LA 442 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 3 | وجایبو حقوق( 2) | LA 443 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 4 | مالي حقوق (2) | LA 444 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 5 | عمومي اساسي حقوق(2) | LA 445 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 6 | فکري پوهنه | SL.IC.0477 | 2 | 2 | | 2 | ټول شمول |
| 7 | ادیان او مذاهب | SL.IC.0478 | 1 | 1 | | 1 | ټول شمول |
| 8 | انګریزي (4) | LA 447 | 1 | 1 | | 1 | پوهنتون شمول |
| 9 | سیاسي افکارو تاریخ (2) | LA 448 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 10 | بیمې حقوق | LA 449 | 2 | 2 | | 2 | اختیاري |
| 11 | محلي اداره | LA 563 | | | | | اختیاري |
| | مجموعه | | 19 | 19 | | 19 | |
| یادونه | په څلورم سمسټر کې د اسلامي ثقافت مضمون چې مخکې یو کریډیټ تدریس کې دی، د نوي نصاب په تطبیق سره درې کریډیټ نظري تدرسیږي چې دوه کریډیټه فکري پوهنه مضمون او یو کریډیټ ادیان او مذاهب مضمون دی، چې مخکې ټول (۱۷) کریډیټه وه او اوس (۱۹) کریډیټه تدریسیږي. | | | | | | |

# د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی

## قضاء او څارنوالۍ څانګه:

## پنځم سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود | کرېډېټ واحد | ساعتونه | | | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | اختصاصي جزا حقوق (1) | LA 551 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 2 | کريمنالوژي (1) | LA 552 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 3 | کريمناليستيک (1) | LA 553 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 4 | کورنی حقوق (1) | LA 555 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 5 | تجارت حقوق (1) | LA 556 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 6 | د اسلام سياسي نظام | SL.IC. 0579 | 2 | 2 | | 2 | ټول شمول |
| 7 | د اسلام اداري نظام | SL.IC. 0580 | 2 | 2 | | 2 | ټول شمول |
| 8 | عمومي نړيوال حقوق (1) | LA 557 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 9 | اساسي قانون (1) | LA 558 | 1 | 1 | | 1 | اساسي |
| 10 | د څېړني بنسټونه | LA 559 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 11 | فقهي اصول | LA 560 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| مجموعه | | | 21 | 21 | | 21 | |
| يادونه | په پنځم سمسټر کي د اسلامي ثقافت مضمون چي مخکي يو کرېډېټ تدريس کي دی، د نوي نصاب په تطبيق سره د اسلام سياسي نظام مضمون دوه کرېډيټه او د اسلام اداري نظام هم دوه کرېډېټه، چي ټول څلور کرېډيټه تدريسيږي، چي دوه کرېډيټه اختياري مضمونونه (محلي اداره او مقايسوي جزا حقوق) حذف سول، مخکي ټول ۱۸ کرېډيټه تدريس کيدل، چي اوس ټول ۲۱ کرېډيټه تدريسيږي. | | | | | | |

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## قضاء او څارنوالۍ څانګه:

## شپږم سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود | کریډیټ واحد | ساعتونه | | | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | اختصاصي جزا حقوق (2) | LA 664 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 2 | کریمنالوژي (2) | LA 665 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 3 | کریمنالیستیک (2) | LA 666 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 4 | حقوقي کلینیک | LA 667 | 1 | 1 | | 1 | تخصصي |
| 5 | کورنی حقوق (2) | LA 668 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 6 | تجارت حقوق (2) | LA 669 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 7 | عمومي نړیوال حقوق (2) | LA 670 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 8 | د اسلام اقتصادي نظام | SL.IC. 0681 | 2 | 2 | | 2 | ټول شموله |
| 9 | فقهي قواعد | LA 672 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 10 | اداره او مدیریت | LA 673 | 2 | 2 | | 2 | عمومي |
| 11 | جنايي روانپوهنه | LA 675 | 2 | 2 | | 2 | اختیاري |
| مجموعه | | | 21 | 21 | | 21 | |
| یادونه | په شپږم سمستر کې د اسلامي ثقافت مضمون چې مخکې یو کریډیټ تدریس کې دی، د نوي نصاب په تطبیق سره د اسلام اقتصادي نظام مضمون دوه کریډیټه تدریسیږي، مخکې ټول ۲۰ کریدیټ تدریس کیدل، چې یو کریډیټه د جزا د قانون تحلیل مضمون حذف سو او اوس ټول ۲۱ کریډیټه تدریسیږي. | | | | | | |

# د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## قضاء او څارنوالی څانګه

## اووم سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود نمبر | کریډیټ واحد | ساعتونه نظري | ساعتونه عملي | ساعتونه مجموعه | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال حقوق جزا(1) | LA 777 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 2 | جزایي محاکمو اصول(1) | LA 778 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 3 | جزاپېژندنه (1) | LA 779 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 4 | مونوګراف | LA 893 | 1 | 1 | | 1 | تخصصي |
| 5 | عیني حقوق(1) | LA 781 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 6 | مدني محاکمواصول(1) | LA 782 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 7 | قرآن او معاصر علوم | SL.IC. 0782 | 2 | 2 | | 2 | ټول شموله |
| 8 | نړیوال خصوصي حقوق(1) | LA 783 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 9 | نړیوال تجارت حقوق(1) | LA 884 | 1 | 1 | | 1 | عمومي |
| 10 | اداري حقوق(1) | LA 785 | 2 | 2 | | 2 | عمومي |
| 11 | میراث حقوق(1) | LA 786 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 12 | قانون جوړوني بنسټونه | LA 788 | 1 | 1 | | 1 | اختیاري |
| 13 | حقوقي ترمینالوژي په بهرنی ژبه | LA 789 | | | | | اختیاري |
| | مجموعه | | 21 | 21 | | 21 | |

**یادونه:** په اووم سمستر کي د اسلامي ثقافت مضمون چي مخکي یو کریډیټ تدریس کي دی، د نوي نصاب په تطبیق سره قرآن او معاصر علوم مضمون دوه کریډیټ تدریسیږي، مخکي ټول ۱۹ کریډیټه تدریس کیدل خو اوس یو کریډیټ مونوګراف د اتم سمستر څخه را انتقال سو او هم اسلامي ثقافت یو کریډټ اضافه سو چي ټوله دوه کریډیټه اضافه کړل سو او ټول ۲۱ کریډیټه تدریسیږي.

## د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## قضاء او څارنوالۍ څانګه:

## اتم سمستر

| ګڼه | د مضمون نوم | د مضمون کود | کریډیټ واحد | ساعتونه | | | د مضمون ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | نړیوال حقوق جزا(2) | LA 890 | 2 | 2 | | 2 | اساسي |
| 2 | جزایی محاکمو اصول(2) | LA 891 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 3 | جزا پېژندنه (2) | LA 892 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 4 | اسلامي تمدن | SL.IC. 0883 | 2 | 2 | | 2 | ټول شموله |
| 5 | عینی حقوق(2) | LA 894 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 6 | مدني محاکمواصول(2) | LA 895 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 7 | نړیوال خصوصي حقوق(2) | LA 896 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 8 | نړیوال تجارت حقوق(2) | LA 897 | 1 | 1 | | 1 | عمومي |
| 9 | اداري حقوق(2) | LA 898 | 2 | 2 | | 2 | عمومي |
| 10 | میراث حقوق(2) | LA 899 | 2 | 2 | | 2 | تخصصي |
| 11 | عدلي طب | LA 8101 | 1 | 1 | | 1 | اختیاري |
| 12 | حقوقدانانو اخلاق او سلوک | LA 8102 | | | | | |
| مجموعه | | | 20 | 20 | | 20 | |
| یادونه | په اتم سمستر کي د اسلامي ثقافت مضمون چي مخکي یو کریډیټ تدریس کي دی، د نوي نصاب په تطبیق سره د اسلامي تمدن مضمون دوه کریډیټه تدریسیږي؛ مخکي ټول ۲۰ کریدیت تدریس کیدل د مونوګراف مضمون اووم سمستر ته انتقال سو او په بدل کي یې د اسلامي ثقافت مضمون دوه کریډیټه سو اوس ټول ۲۰ کریډیټه تدریسیږي | | | | | | |

د قضاء او څارنوالۍ څانګې کتلوک چي په (۱۲) پاڼو کي ترتیب شوی دی، د څانګې د شورا په ( ) مه غونډه کي په ( / / ۱۴۰۰ ) نیټه تصویب شو.

د قضاء او څارنوالۍ څانګې کتلوګ چي په (۱۲) پاڼو کي ترتیب شوی دی، د پوهنځي د علمي شورا په ( ) مه غونډه کي په ( / / ۱۴۰۰) تصویب شو.

بشیراحمد ساپی د څانګی آمر محمد شفیق ژمن د پوهنځی رئیس